# پښتو مزاحمتي ادب
## (د ۱۹۷۸ نه تر ۲۰۰۲ پورې)

**PASHTO RESISTIVE LITERATUER (SINCE 1978-2002)**

Prof. Dr.Nasrullah Jan Wazir*

**Abstract:**

The literature which is produced from 1978 to 2002 in Afghanistan as a reaction to saur revolution is majorly known as Resistive literature, which has represented the feelings and emotions of most of the people of that area. This paper is an attempt to present a detail analytical study of the literature of this period. The poetry of this period has been evaluated in particular and the prose genres have also been evaluated from every aspect in common. This paper will greatly help in writing the overall history of Pashto literature for the researchers and scholars of Pashto literature in future

د افغانستان د ائنده په حقله حالات له هغه وخت څخه د خرېدو خوا ته روان شول څۀ وخت چې هلته ځوانان د نظامي او لوړو زدکړو د پاره په دولتي سطح شوروي يا شوروي دوست هېوادونو ته استول شروع شول. بيا کله چې دغه ځوانان بېرته خپل وطن ته راستنېدل يا راستانه شول ، نو په بېرته راتګ کښې د هغوي په سياسي او نظرياتي تيورۍ يا افکارو کښې هم يو واضح بدلون راغلے ؤ. څۀ چې دوي هلته ليدلي او محسوس کړي

* Professor & Director Pashto Academy University of Peshawar Khyber Pakhtunkhwa, Pakistan

وو ، هغوي دلته د هم هاغه رنګه ماحول په لټه کښې شول ـ يعني د خپل وطن په هغه زور يا وراستهٔ نظام کښې پاتې کېدل ورته ګران او يا يو ډول ستونځمن غوندې ښکارېدل ـ ځکه دوي دا هڅه کوله چې څهٔ ډول به وکولے شي چې دلته هم هاغه رنګ ماحول اولس ته او هم د دولت په نظام کښې رامنځته کړي ـ لکه د مثال په ډول د دوي د دې هڅو يوه نمونه د خلق ډيموکريټک ګوند قيام په چوکاټ کښې چې راښکاره شوه ـ خو لکه څهٔ ډول چې د نيوټن تيوري راښائي چې هر عمل يو ردِ عمل هم لري ـ يعني د دې مترقي ځوانانو د تيورۍ يا نظرياتي ګوند برعکس هلته ورته مقابل کښې ځينې داسې ګوندونه هم را مخې ته شول کوم چې د دوي دغه رنګا مفکورو سره متفق نهٔ وو ـ يعني په افغانستان کښې د اشتراکي طرز نظرياتي سياست په مقابل اسلامک ائيډيالوجيکل ګوندونه هم مخې ته اودرېدل ـ دا د ۱۹۵۸ نه ۱۹۷۸ تر منځه هغه بحراني دوره حسابولې شي چې په دغه مهال کښې د شوروي، يورپ او د امريکې د سامراجي نظام او مذهبي ډلو تر منځه په افغانستان کښې د رقابت او پنجه ازموينې لوي لوي پلانونو ځاے نيولو ـ چې له کبله ئې د افغانستان په حالاتو بالخصوص او په وروستو وختو کښې د نړۍ په سياست ، معيشت، تاريخ و جغرافيه ، ثقافت، ادب او د خلقو په نفسياتو بالعموم ستر اغيز پرېښودے ـ په هاغه مهال د دې ګوندونو نظرياتي سياست او عزائمو ته دولت که دومره زيات نهٔ ؤ متوجه شوے نو علت ئې دا کېدلے شي چې يو خو دولتي نظام کښې د شاهي کورنۍ تر منځه په داخل کښې خپل رقابت روان ؤ، بل په کوزه خوا کښې ورته انګرېز استعمار او له بره ورته شوروي ښپې راغزولې هم دغسې په دې هر څهٔ سربېره د خلقو د معاش ستونځه ئې تر زغم لاتيره وه ـ کله چې په افغانستان کښې په ۱۹۲۵ هلته د خلق ډيموکرټيک ګوند قيام اعلان شو۔ نو بالاخر د ځوارلس کالو د ګوندې او نظرياتي مبارزې وروسته دغه ګوند د يوې کودتا يا انقلاب په برپا کولو

سره وتوانېدو چې د رياست واګې خپل لاسو کښې واخلي ـ خو له دې پېښې سره په لوي کچ اوليدل شول چې د د اولس غوټ اکثريت د دې برعکس عمل اوښود ـ يعني يوخوا ته د انقلاب دفاع کوونکې ډله شوه او بل خوا اولس شو چې د انقلاب په ضد راپورته شوي وو ـ بيا له دوي څخه هغه څوک چې د اولس د جذباتو او احساساتو نمائندګي غږ ئې په غاړه اخستے ؤ د مجاهدينو په نامه سره ياده شوه ـ د دې دوؤ ډلو تر مينځه د سياسي اور نظرياتي رقابت تر څنګ د افغانستان د اديبانو ، شاعرانو او روشن فکرانو ډله بې تاثره پاتې نۀ شوه ـ ځکه د دې پېښې په اوائلو کښې يا بيا لږه موده وروسته له دوي څخه ځينو کيڼ لاس او ځينود ښي لاس ګوندې او نظرياتي سياست اختيار کړ ـ د پښتو ژبې و ادب په تاريخ کښې د دې پېښې واقعت په يوه حواله داسې شوه لکه څۀ ډول چې د پښتو ادب په تېره دوره کښې د روښانيانو او اخونيانو له شخړو څخه پښتو ادب ته چې کومه ګټه را رسېدلې وه ـ له دې پېښې څخه لويه ادبي ګټه دا لاس ته راغله چې په پښتو کښې هراړخيزه موضوعات څېړلو ته لار هواره شوه، د نيا د نورو ژبو هر رنګه موضوعات او مواد را دننه کړل شول، پښتو د دنيا د نورو ژبو په سيالۍ کښې ځان ته يو حيثيت تر لاسه کړ او په نړۍ کښې د دې قوم د نفسياتو، تاريخ و ثقافت ، ژبې او ادب په حقله مختلف ډوله څېړنې او پلټنې شروع شوې ـ ځکه وئيل کېدلے شي چې له دې څخه د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختيا څلورم پړاو شروع شوے ـ

د دې څلورم پړاو څخه د افغانستان په سياست ا و فرهنګ څومره قوي اثر شوے په دې حقله يو ادب پوهـ ليکي چې:

"دغه د بيا کله او بل مهال خبره ده، خو لږ تر لږه دې لوغړن او غرغنډ حالت زمونږ د ټولنې سياسي او فرهنګي خونې دېوالونه پاڅۀ کړل"ـ (۱)

په دغه دوره کښې چې څۀ ډول ادب تخليق کېدۀ هغه په فکري او نظرياتي توګه دوه متضاد ډوله ؤ ـ لکه د دې څخه يو هغه چې د انقلاب د دفاع يا پرمختيا په غرض ليکل کېدۀ او دويم هغه چې د دې په رد کښې به ليکل کېدۀ ـ خو د دې متضاد ادبي تخليق څخه دا يوه مهمه نقطه هم را پورته کېږي چې د دې دواړو ډلو څخه تخليق کېدونکي ادب په ټل کښې يو رنګه د مزاحمتي ادب رنګ هم موجود دے ـ ځکه چې که يو مکتبه فکر د خپلو ملي ، قومي او مذهبي عنعناتو او مفکورو په اساس د يو مذهبي نظام د نفاذ خبره کوله ، نو مقابل لوري خو هم د افغانستان د وروستو پاتې کېدو د علاتونو حل د نړۍ په يو مضبوط سياسي او نظرياتي فکر کښې لټولو ـ ځکه دا هم ځانته يو ډول د مزاحمتي ادب حيثيت لري ـ

مزاحمتي ادب په پښتو کښې ډېر زوړ تاريخ لري لکه : د پير روښان صوفيانه ادب ـ چې يوه خوا ته ئې په پښتني ټولنه کښې د جهالت، بدعت، توهم پرستۍ او د فرسوده رواياتو په خلاف د اد ب لـه لارې د اصلاح هڅې کولي ـ بيا د خوشحال بابا او په شلمه پېړۍ کښې د فخر افغان باچاخان د خدائي خدمتګار تحريک په اساس د پښتو د مزاحمتي ادب ډېرې وياړنې زمونږ تر مخه دي ـ خو لـه دې سره سم که د دې پېښې په تناظر کښې راپورته کېدونکي ادب جاج واخيستې شي ـ نو د دې په داخل کښې د يو غاصب قوت په خلاف د اکثريت د راغونډولو او مبارزه کولو واړه ترتيبات راته ښودل شوي ـ ځکه په پښتو کښې د مقاومت يا د مزاحمتي ادب بنا لـه ډېره پخوا څخه ده نۀ چې دا د اوس مهال خبرې دي ـ دا وروستنۍ پېښه او د دې په مقابل کښې راپورته کېدونکے پښتو ادب او بالخصوص جهادي ادب هم د پښتو د مزاحمتي ادب يو ستر باب په تشکيلوي ـ

د دې دورې د ادب يوه خاص ځانګړنه دا ده چې تر وخته پورې د دې مهال د ادب په موضوعاتو کښې هاغه د پخوا په څېر د حسن و عشق د وارداتو د بيان ، د صنفِ نازک د لطافت و نزاکت احوال ، يا د نازک خيالۍ او باريك بينۍ تذکرې تر

څهٔ وخته شاته کښېښودل شوې .ځکه چې د حالاتو تغير ورته دا اوښودله چې د وخت چغه دې عام کړل شي، د خاورې او اولس غم دې فوقيت ولري په هر هغه څهٔ باندې چې اوس لاد هغو وخت نهٔ دے راغلے.

په پښتو کښې جهادي ادب که د مقدار له رويه جلا جلا اوکتلې شي ، نو په لوي تول د نثربرخه ئې تر نظم کمه ده .خو د نظم په برخه کښې ئې غزل او په خپله څهٔ ته چې نظم وئيلې شي تر نورو اصنافو بيا ښېخي زيات دے .د دې يوائينے علت هم دا کېدلے شي چې د جهاد اکثرو مجاهدينو به خپل خاطرات دغه د شعر له لارې په اسانه او بې د څهٔ ستونځې وړاندې کولے شول.

په نثري اصنافو کښې چې کوم يو صنف ته زياته توجه شوې ده هغه يوائې افسانه ده چې تر هر بل صنف زياته تخليق شوې ده .البته پس له دې په وروستو وختو کښې ناول هم د قدر په لحاظ ښهٔ شوے .تر کومه چې د دې دورې د ادب د موضوعاتو تعلق دے نو هغه ډېر واضح ، د هغه وخت د حالاتو سره سم او د خپل وخت نمائنده بلل کېدلے شي لکه چې يو ادب پوهـ ليکي:

> "جهادي ادب او د مقاومت مطبوعات زمونږ د هيواد د مطبوعاتو ځانګړے باب دے، په دې ادبياتو او دغه مطبوعاتو کښې د روسي قواوو او روسي يرغل په وړاندې د افغانستان د مجاهد ملت د مقاومت او مېړانې پراخ اړخونه او تاريخ خوندي دے، ځکه چې په دې مطبوعاتو کښې د هجرت او جهاد د ستونزمنو او کړاؤجنو شپو ورځو بيل بيل تصويرونه، انځورونه او هم دا رنګه جلا جلا سياسي فکر او يرغليز بدلونونه خوندي دي چې په دې توګه د جهاد او مقاومت د وخت ادبيات او مطبوعات زمونږ د روو لسيزو واقعات او پېښې خوندي کوي".(۲)

وئيلې شي چې شاعر او اديب عموماً له ګوندي سياست ، لساني تعصباتو او نژادي کرکوڅخه بالاتر وي .خو په داسې حالاتو کښې چې د هغهٔ وطن او اولس يرغال کړل شوے وي ، ممکن نهٔ ده چې هغوي بې طرفه پاتې

شي ـ ځکه چې د قوم او وطن مينه جز د ايمان ده ـ بيا ظلم و تېرے او جبر و استبداد د خداے په مځکه که له چا سره هم کېږي، هغوي ئې په مخالفت کښې تر هر چا د وړاندې ولاړ وي ـ ځکه چې د هغوي احساس او ضمير کله هم دې ته نۀ وي اماده چې د يو عام انسان په ځېر په داسې پېښو غلے يا ګونګے پاتې شي ـ نو هغه کله هم نۀ غواړي چې د هغۀ اولس دې د عدم شعور له کبله د کوم بهرني يا داخلي ځورېدلي حالت ښکار شي ـ

په افغانستان کښې کله چې د ثور د کودتا په خلاف پاڅون پېل کېدۀ، نو ئې يواځينے مقصد هم دغه ؤ چې د خپلې خاورې ځخه دفاع اوکړي ، او د بل په اوږو راسپور ګوډګي ځخه واک د وطن حقيقي واکدار و ته ور په لاس کړي ـ

په دې ناورين کښې پښتانۀ شاعران او اديبان که څۀ هم در بدره او ډېر اوځورول شول ـ دوي هم د نورو په شان له خپلو وطنوالو سره مهاجرت او عين چې نېغ په نېغ په عملي جهاد کښې هم شريک شوي ـ په ابتدا کښې کله چې دوي له وطن ځخه هجرت کولو ته مجبور شول نو په ابتدا کښې دوي کله هم کوم خاص اختلافي ګوند يا تنظيم پورې مربوط نۀ وو ـ ځکه چې دوي هڅه کوله چې بې طرفه پاتې شي ـ خودا د حالاتو ستم ؤ يا د وخت جبر ، چې هغوي په دې فکر کښې تر ډېره کامياب نۀ شول ـ يوه خوا ورته د حالاتو ناکړدې وې ، بل د دربدرۍ په داسې حالاتو کښې چې د معاش او سر پټهونې بله هېڅ کومه ذريعه ورته مُيسر نۀ ؤ، بالاخر دوي هم د تنظيمي وفادارۍ په لومه کښې ولوېدل ـ مګر هغه يواځينۍ وظيفه چې دوي په ډېر افتخار سره ترسره کوله هغه د دين مبين سرلوړي او د وطن دفاع وه ـ

يقيناً چې د جهاد په دې دوره کښې يو ستر ادب تخليق شوے ـ چې نۀ يواځې د پښتو ژبې او ادب د تاريخ يو ځلنده باب رقم کوي بلکې د هغه وخت د پېښو او حالاتو په حقله هم يوه لويه تاريخي پنګه په خپل داخل کښې لري ـ خو د جهاد د دورې د ادب فني سکښت ته که اوکتلې شي، نو

یو څهٔ فني نیمګړتیاوې بیا په خصوصیت سره لري ـ هغه دا چې په دې کښې له جذباتیت څخه زیات کار اخیستل شوے ، علمي او فلسفیانه موادو څرک په کښې کم ، د دې پښې ژورتیا ته په دقیق نظر نهٔ دي کتل شوي ، بهراني لاسونو او مرستو ته په کښې کومه خاص اشاره نهٔ ده شوې ـ دا او یو لړ داسې نورې کمزورتیاوې په خصوصیت سره لري ـ په تېره هغه شاعران او ادیبان چې د سنګر په مورچلونو کښې ئې خپل تاؤدهٔ ایماني احساسات د شعر یا د قیصې په رنګ کښې بیان کړي ـ د هغوي په احساسات کښې جذباتیت زیات او فني سکښت کم ښکاري ـ خو د فن له رویه چې ترې کومې نیمګړتیاوې ترسره شوې دي نو یوه خوا ته که د هغوي د جذباتي کیفیاتو د شدت څپې توند والے ؤ نو ورسره ورسره په ادبیاتو کښې د هغوي تربیې کم والي عنصر هم کېدلے شي ـ خو له دې څخه دا مراد هم اخیستل نهٔ دي پکار چې د اکثریت جهادي شاعرانو او ادیبانو دغه حال ؤ ـ بلکې ځینې ډېر داسې غښتلي او تکړه شاعران او ادیبان هم وو چې د لویو لویو نامو خاوندان دي ـ چې د پښتو شعر و ادب په ډګر کښې د یو ځانګړي اسلوب خاوندان دي ـ چې تفصیلي ذکر به ئې په خپل وار وروستو راشي ـ

په افغانستان کښې د خارجي یرغل په خلاف مجاهده په دوه ډوله روانه وه ـ یوه هغه نمونه چې نېغ په نېغه به د ټوپك او سنګر له خوا ترسره کېدله ـ دویمه هغه چې به د قلم په ځوکه ترسره کېدله ـ په مجاهدینو کښې ځینې ډېر د علم خاوندان داسې وو چې یوه خوا ته که به د جنګ په تاؤدؤ مورچلونو کښې ناست اوسېدل ، نو ورسره ورسره به ئې د جهاد په حقله خپلې خاطرې د خوندي کولو موقع کله هم له لاسه نهٔ ورکوله ـ

د خارجي یرغل په خلاف د مقاومت په دې غورځنګ کښې عام اولس که د توپ او توفنګ څخه کار اخستے ، نو د وخت شاعر او ادیب د قلم په ځوکه هغه څهٔ لاس ته راوړي چې د تاریخ په پاڼو کښې به ئې نقش تر ډېره ژوندے پاتې شي ـ

د جهادي ادب اکثرو ليکوالانو په تنظيمي چوکاټ کښې يا په انفرادي توګه ځينې داسې ادبي او اطلاعاتي مرکزونه هم قائم کړي وو چې له دغو ځايونو څخه به يو لړ ادبي او سياسي مجلې خپورل کېدې -چې موضوعات به ئې د اولس د مهاجرت ستونځې ، د جهاد برياوې، جهادي غوښتنې او د جهاد په اړ يو لړ نور تبليغات به ئې لرل -لکه د مثال په ډول دغه لاندې مرکزونه او مجلې :

"د پوهاند مجروح شورىٰ نويسندګان او اطلاعاتي مرکز-چې تر اوسه ئې اوولس ټوکه کتابوه خپارۀ کړي دي-دغسې د افغان اطلاعاتي مرکز چې په ۱۹۸۲ء کال په پېښور کښې د ښاغلي محمد حسن اولس مل له خوا جوړ شوے وۀ چې د افغان مجاهد او مجاهد اولس جريدې ئې خپرولې -بيا وريسې د افغانستان د جهادي خبرنو مرکز چې په ۱۹۸۲ء کال په پېل کښې کار شروع کړے چې په هر دوو مياشتو کښې د "قلم" په نامه تحقيقي او ادبي مجله خپروي او د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنه چې د ښاغلي عبدالرسول امين له خوا جوړه شوې وه-د "وفا" په انګليسي درې مياشتنۍ او د " خپلواکۍ" پښتو او دري مياشتنۍ مجله خپروي، بله د امان کتاب خپرولو مؤسسه ده، دا مؤسسه په ۱۹۷۸ء په افغانستان کښې جوړه شوې او له ۱۹۸۰ء کال را هيسې په پېښور کښې مطبوعاتي فعاليت لري ".(۳)

پرته له دې يو لړ ځينې نورې مطبوعاتي مرکزونه هم ياد شوي چې په ځانګړي ډول ئې د جهاد د استقامت او د پښتو د جهادي ادب په حقله خدمات ترسره کړي دي لکه د مثال په ډول د مجاهدو شاعرانو او اديبانو ټولنه-

په افغانستان کښې د ثور د خونړۍ پېښې را په دې خوا پښتو ادب د موضوعاتو په لحاظ او هم د فني معيار له رويه ډېرې لاس ته راوړنې کړې دي -لکه نوي نوي لُغات، نوي اصطلاحات او د نړۍ له ادبياتو څخه راز راز اصناف نېغ په نېغ پښتو ته را اړول شوي دي -خو په دې دوره کښې کوم څۀ چې په پښتو ادب کښې

د بل هر څۀ په نسبت زيات ليدل شوي هغه د شوروي د مداخلې او تيري په خلاف د غبرګون او مقاومت اثار دي. دا هغه وخت ؤ چې توره او قلم په يو وخت د خلقو د جذباتو ترجمانه اوګرځېدل. چې له کبله ئې د جهاد فلسفه ژوندۍ او د قومي مزاحمت جذبه مدام سر لوړې پاتې شوه. په داسې حالاتو کښې هغه څوك چې تر وسه ئې ځان بې طرفه ساتلو ، هم بې طرفه پاتې نۀ شول لکه: نومتو مؤرخ او اديب محمد حسن کاکړ چې په خپله خاوره د شوروي ټانکونو، شوبلو او زغره بند لښکر ويني نو ئې په طبيعت څۀ داسې حال ورته جوړ شي.

"ما ته هم ژړا راتله او هم دغسې مې لاس دا د شوروي ټانکونو ته نيولے وۀ چې تا سو څۀ کوئ؟ ووځئ، بيا خبر شوم چې بابا دا خو ورړه خبره نه ده. له هغې ورځې نه ما د شوروي اتحاد په مقابل کښې او د پرچمي حکومت په مقابل کښې يو مخالف دريځ ونيو". (۴)

پرته له دې يو لړ هغه ليکوالان چې تر يو څۀ وخت پورې د کېمونسټ دولت کلك پلويان وو خو کله چې ئې په خپل اولس باندې د ګوډګي دولت ناترسه ظلمونه اوليدل نو په دې ترې منحرف او د ملت او وطن دفاع ته ئې خپل ټول فعاليتونه وقف کړل لکه: د پښتو ژبې نومتو شاعر علي ګل پيوند او حبيب الله زړۀ سواند شينوارے.

کله چې د روسانو په راتګ په افغانستان کښې د اولس غوڅ اکثريت د هغوي په خلاف خپله کرکه اوښودله ، نو په داسې حالاتو کښې د ملت باسواده او د قلم خاوندان هم د ملت د اکثريت په غږ د هغوي سره هم غږي شول. لکه هغه وخت کله چې عام اولس په کډه رامجبور شو نو ورسره ورسره د پښتنو دانشورانو هم څۀ دا ډول حال ؤ چې:

"څو مياشتې پس د پوهنتون استادان عبدالرسول امين، بهاؤالدين مجروح او حکيم تنيوال را ورسېدل، جرګې مو هوډ وکړ چې يو به هم غربي ملکونو ته نۀ ځي او همدلته به د خپلو افغاني ورونو په څنګ کښې د روسانو په ضد جګړه کوو". (۵)

د جهادي فکر او د جهاد د فلسفې د خپرولو تر شا چې کوم ستر سوچ او فکر کارفرما ؤ ، هغه د دين مبين سرلوړتيا او پياوړتيا ، د وطن ننګ و ناموس او د وطن ازادي و خپلواکي څخه دفاع کول وو.

د يوې اندازې مطابق د ۱۹۷۸ء کال نه تر ۱۹۹۲ء پورې د انقلاب په رد کښې د جهادي ادب څومره خپرونې چې شوې دي ، هغه د زرهاو په حساب دي - چې د بيله بيلو کتابونو، مجلو، جريدواو ورځپاڼو په شکل کښې خوندي دي.په دې حقله د افغانستان د جهادي ادب نومتو محقق عبدالباري غيرت په تحقيقي مقاله "اثارِ چاپي در مُفصلۀ افغانستان" چې د ۱۹۷۸ء نه تر ۱۹۸۲ء زمانې پورې محيط ده ډېر بشپړ معلومات راوړي دي.چې يو څۀ تفصيل ئې په دې جدول کښې کتلے شئ :

| کتب | ليکوال | نثر/نظم | کال | زبان |
|---|---|---|---|---|
| افغانستان ازاديږي | انقلاب | نظم | ۱۳۵۹ل | پښتو |
| افغانستان د انقلاب ثور، | ابوالفضل شارع الدين وزير، | نثر | ۱۹۸۰ نه مخکښې | او . |
| افغانستان د اسلامي انقلاب په اوږدو کښې، | احمد ضياء | = | ۱۳۵۷ل | |
| الشمائل المحمديه | فضل هادي شينوارے | نثر | ۱۳۶۰ل | |
| النور (جريده) | حزب اسلامي خالص | نظم و نثر | ۱۳۶۰ل | پښتو/ دري |
| اسلامي امت جوړ کړئ، | حکمتيار | نثر | ۱۳۵۹ل | پښتو |
| الجهاد | اصل جمال | نثر | نۀ لري | پښتو |
| افغانستان ټولو ته يو درس.. | اعظم | نثر | ۱۹۸۲ء | پښتو |
| افغان ملت څۀ غواړي؟ | افغان ملت | " | | نۀ لري |
| اتحاد مجاهدين (جريده) | جبهه نجاتِ ملي، محاذ ملي | | ۱۳۶۰ل | پښتو/ دري |
| استقلال (جريده) | افغان ملت | نظم و نثر | - | " " |
| المسلمون(حريده) | حزب اسلامي | نثر | " | " " |
| اتحاد اسلامي (جريده) | اتحاد اسلامي سياف | نظم و نثر | ۱۳۵۹ل | |
| افغان مجاهد (جريده) | مرکز اطلاعاتي افغان مجاهد | " " | ۱۴۹۱ل | |
| اتحاد (جريده) | اتحاد اسلامي مجاهديدين اروپا " | " | ۱۳۶۰ل | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| افغان ملت (جریده) | افغان ملت | " " | ۱۳۲۱ل | |
| ارمان شهید | اتحاد اسلامي | " " | " " | " " |
| بحرانِ افغانستان | عزیز الرحمٰن الفت | نثر | ۱۳۵۹ل | اردو |
| بشارت مجله | حرکت انقلاب افغانستان | نثر و نظم | ۱۳۶۰ل | پښتو/ دري |
| په افغانستان کښې لیدل... | انقلاب | نثر | ۱۳۵۸ل | پښتو |
| په افغانستان کښې د کیمونستانو ... | ع، شهرت ننګیال | نثر | ۱۳۵۹ل | |
| په افغانستان کښې د وینو ... | عبدالمحمد مموزے | " | ۱۳۵۸ل | |
| په افغانستان کښې د روسانو ... | " | " | " | " |
| تور زړیو ته یم توره ....... | مولوي خالص | نظم | - - | پښتو |
| توره شپه او سرهٔ وحشیان | حزب اسلامي حکمتیار | نثر | | " |
| جهاد و مجاهده | والاجان واثق | نظم و نثر | | - - |
| جهاد (جریده) | جبهه ملي نجات افغانستان | | ۱۳۶۰ل | پښتو/ دري |
| جهاد راستین (مجله) | اتحاد اسلامي سیاف | " " | | " " |
| جبهه ملي نجات (جریده) | جبهه ملي | نثر | ۱۳۵۹ل | " |
| خوږو ته خوږ او ....... | مولوي خالص | نظم | - - | پښتو |
| خپلواکي (جریده) | اتحاد ملي اسلامي | نظم و نثر | ۱۳۶۰ل | پښتو/ دري |
| څنګه کولاے شو ... | عبدالمحمد مموزے | نثر | ۱۹۸۰ء | پښتو |
| د مسلمان افغان فریاد | انقلاب | نظم | ۱۳۵۹ل | پښتو |
| د وینو دریاب | ګوهر | " " | - - | " " |
| د افغان غږ (جریده) | عبدالقادر بیانخېل | " " | ۱۳۲۱ل | " " |
| د افغان مجاهد آواز | ع، شهرت ننګیال | نظم | ۱۳۵۹ل | " " |
| د وطن ویر | " " | نظم | ۱۳۶۰ل | " |
| د افغانستان سیاسي احزاب | " " | نثر | ۱۳۶۰ل | " |
| د افغانستان د مسلمان ملت ... | بشار | " | ۱۹۸۱ء | " |
| د ګروېګ آواز | نیاز علي ایپي | " | " " | " |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان تاریخ او د ..... | احسان الله دانش | " | | - |
| د روسانو او غیرو ...... | واله جان واثق | نظم و نثر | ۱۳۵۹ء | " |
| د کېمونزم سره برېوکې | مولوي زاهد احمدزے | نثر | " | " " |
| د غیرت توره | امان الله نصرت | نظم | - - | " |
| د ژوبل ژوبلي | عبدالحکیم ژوبل | نثر | ۱۹۸۰ء | " |
| د ایشیاء په زړهٔ کښې | طاهر اپرېدي | نظم و نثر | ۱۹۷۹ء | " |
| د کتهواز اسلامي جهاد | نور احمد مصلح قره باغي | نثر | - - | پښتو |
| د افغانستان ملي اسلامي .. | محاذ ملي | نثر | - - | پښتو/ دري |
| د افغانستان د اسلامي جمعیت .. | جمعیت اسلامي | | - - | پښتو |
| د ممثلې لوے جرګې .... | ممثله لویه جرګه | | ۱۳۵۸ل | پښتو |
| د افغانستان د اسلامي شورٰی .. | - - - | | ۱۳۵۹ل | پښتو |
| د وردګو انقلابي شورٰی | وردګو شورٰی | نثر | - - | پښتو |
| د جنت ګلونه | حرکت انقلابي اسلامي | نظم و نثر | ۱۳۶۰ل | پښتو/ دري |
| د اسلام غږ (جریده) | جمعیت اسلامي | " | ۱۳۵۹ل | " " |
| د شهید زیرے (مجله) | " " | " | ۱۳۶۰ل | " " |
| د ننګرهار، کونړ او لغمان ـ | اتحادیه قومي | نثر | " " | پښتو |
| سرېږې خوره بلا | محمد هاشم زماني | نظم | ۱۹۸۱ء | " |
| سیمائے شهید (مجله) | حزب اسلامي حکمتیار | نظم و نثر | ۱۳۶۰ل | پښتو/دري |
| شهادت | حزب اسلامي | نثر | ۱۳۵۹ل | پښتو |
| شعارِ مبارز | زمرك عابد | " | ۱۳۶۱ل | پښتو/ دري |
| شهید مولوے قدیر .... | ګل زرك ځدراڼ | نظم و نثر | ۱۳۶۰ل | پښتو |
| شفق (مجله) | حزب اسلامي حکمتیار | " " | " | پښتو/ دري |
| عالمي ضمیر ته | نیاز علي ایپي | نثر | ۱۹۸۲ء | پښتو |
| غذا (جریده) | انقلاب | نظم و نثر | - - | پښتو، دري، عربي |
| فریفته الجهاد .... | حرکت انقلاب اسلامي | نثر | ۱۳۰۵ل | ژباړه |

نشرده از مرام...... " " - پښتو/ دري

قطبي جرس محمد هاشم زماني نظم ۱۹۸۰ء پښتو

قضاوت وکیل محمد اکبر نثر ۱۳۲۱ل پښتو

ګواښ مزمل نظم - - "

مقاومت (جریده) حزب ډیموکراټ ... نظم و نثر ۱۳۵۹ل پښتو/ دري

متن بیانیه مجاهد کبیر مولوي محمد نبي محمدي نثر ۱۳۲۰ل پښتو/ دري

مونږ او زمونږ دعوت شهید عنایت الله و عبدالله " - - پښتو

ملي ترقۍ لار افغان " ۱۳۵۸ل پښتو

ملي روزنه اسد " ۱۳۵۹ل پښتو

مجاهد (جریده) جمعیت اسلامي نظم و نثر ۱۳۲۰ل پښتو/ دري

محاذ محاذ ملي اسلامي " " ۱۳۵۹ل " "

میثاقِ خون (مجله) جمعیت اسلامي " " ۱۳۲۰ل " "

مشعل (جریده) پسرلے " " " " "

ندائ اسلام (مجله) جبهه ملي نجات " " ۱۳۵۹ل " "

نواهائ از سنګرهائ.... جمعیت اسلامي نظم - - " "

ناسیونالیزم او ملي مسایل سمون نثر ۱۳۵۸ل پښتو

ولي او د څۀ دپاره؟ عزیز الرحمٰن الفت نثر - - "

هدایت الاسلام (جریده) حرکت انقلاب اسلامي محمدنبي نظم و نثر ۱۳۲۰ل پښتو

هدایت الاسلام (جریده) " مولوي منصور " " پښتو/ دري

هماغه د اسلام تاریخ لار حکمتیار نثر - پښتو (۲)

ځینې هغه کتابونه، مجلې او ورځپاڼې چې تفصیل ئې دلته نۀ دے راوړل شوے که هغه ټولې ځله حساب کړل شي، نو یقیناً چې دا به تر زرهاو هم زیات شي.

یوه مهمه خبره چې دلته ئې باید یادونه اوکړو هغه دا چې ، د جهادي دور لیکوالان په دې پوهېدل چې د جهاد په دې مقدسه مبارزه کښې ددوي تر څنګ ځینې داسې پټ لاسونه هم کار کوي ، کوم چې د خارجي مقاصدو تحت خپل

اهداف پر مخ بیاي ـ نو په داسې حالاتو کښې د دوي مقاومت دوه اړخیز ؤ ـ یعني یوه خوا ته به که هغوي په اولس کښې د جهاد او د وطن د دفاع فلسفه پر مخه بېوله ، نو ورسره ورسره ئې د دې پټو لاسو په خلاف هم اولس ته د بیدارۍ تحریک ورکولو ـ خو د لیکوالانو دغه ډول د ځینو حقائقو د رابرڅېره کولو هڅو به هغوي ته کله سخت مشکل هم پیدا کړو ـ تر دې چې ځینو په کښې خپل سرونه هم بائیلودل لکه: غروال صاحب، عزیزالرحمٰن الفت، بهاؤالدین مجروح او ځینې نور ـ

خو د جهادي دورې په ادب کښې کوم څۀ چې په خصوصیت سره عام لیدل شوي دي هغه د ډېرو سختو او نامساعده حالاتو باوجود بیا هم ډېر لوي او د ستائنې وړ دي ـ په دې حقله دا رائے ښېخي په ځاے ده چې :

> "د کمونسټ حکومت په خلاف بې کوره شاعرانو، ادیبانو پښتو شعر و ادب کښې ډېر کار وکړ، انقلابي سندرې، غزلونه او نظمونه ئې ولیکل، دې بڼ کښې ډېر نوي ځلمي شاعران وټوکېدل، د هغوي نوې جذبې او تازه خیال د شعر په باغیچه کښې نوي نوي ګلونه او مېوې پیدا کړې" ـ (۷)

بې ځایه به نۀ وي چې د پښتو جهادي ادب یو څو د لنډې قیصو مجموعې، چې د جهاد د زمانې واقعات په کښې په خصوصیت سره بیان شوي دي ، څخه یو څو مجموعو قیصې درته وړاندې کړل شي ـ لکه له دغسې قیصیو څخه د ولي محمد ولي "د سبا غازي" د لنډو قیصو مجموعه هغه په زړۀ پورې مجموعه ده، چې هره قیصه ئې له رښتوني واقعاتو پور ده ـ د موضوعاتو په لحاظ د ولي محمد ولي د لنډو قیصو مجموعه په درو برخو وېشل شوې ده لکه: عالمي افسانې، ملکي افسانې او هغه برخه چې علاقائي افسانې په کښې ځاے کړل شوې دي ـ ملکي او علاقائي افسانې بیا هغه دي چې ټولنیز سماجي مسائل ورکښې څېړل شوي دي ـ خو د عالمي افسانو په برخه کښې ئې هغه لنډې قیصې راوړې دي کومې چې د روانې پېښې سره علاقه لري ـ داهغه قیصې دي چې د سوز او درد ، د ویر او ماتم، د دربدرۍ او بې کورۍ د کیفیاتو پرته بل څۀ نۀ لري ـ د دې پېښې په اړه له هغو ډېرو

واقعاتو څخه يو څو بيا هغه قيصې دي چې د ليکونکي احساس ئې راپَرولے او غوښتي ئې دي چې له نورو سره هم په دغسې احساس خبرې اوکړي .

که اوکتلے شي نو ددې مجموعې هره قيصه په حقيقت مبني ده، البته فني چوکاټ ئې ضرور د لنډې قيصې دے .په تېره په دې مجموعه کښې "د سبا غازي"، "بې کوره مسافر"، "وروستے ارمان"، "تنه رنبا" ، "تونده هوا" او ځينې نورې هغه قيصې دي چې د فن له رويه او هم د مقصد له رويه يو ستر مقصد او يو واضح پيغام لري.البته د واقعاتو په تسلسل کښې يا د بيان په مربوطولو کښې ترې نه يو نيم ځاے فني ښوېدنه ضرور شوې ده .خو بحيثيت مجموعي دغه لنډې قيصې د يو درد من او بااحساس انسان د زړۀ تاودۀ احساسات په خپله لمن کښې لري.

"د خپل زړۀ تاودۀ احساسات مې د لنډو کيسو په بڼه سره يو ځاے کړي دي، په دې هيله چې د چا پېرچل او ټولنې ترجمانې وکړاے شم".(۸)

د کېمونسټ دولت او د روسانو له لاسه کله چې د افغانستان هر لوټه په وينو سره شوه .کور، کلے، کودر، پټے ، غم او ښادي غرض هر څۀ په معنا د اصل يا د خپل رواج په مطابق پاتې نۀ شول ، نو حال تر دې را ورسېدۀ چې هر چرته له ماښامه تر ماښامه او له ګهيځه تر ګهيځه يواځې د سرو وينو کاروبار عام شو.په داسې حالاتو کښې يواځې هديرې وې چې تنکي تنکي ځوانانو ته ئې سحر او ماښام خپلې غېږې پرانستې.بې له دې کوم بل کاروبار پاتې نۀ شو.هغه کيفيات چې به په دې موقع ليدل کېدل عام الفاظ ئې له بيان څخه عاجز دي .خو که د نوموړي شاعر،اديب او ملت پال مجاهد ښاغلي حبيب الله رفيع په نرمه او پسته ژبه ئې بيان راواخلو چې :

لمر په وينو کښې را خېژي لمر په وينو کښې ډوبېږي
له ختيځه تر لوېديځه، هېواد تل په وينو سور دے

د تيارو په تېره توره، تېې شوي دي روغ زړونه
د روسي وحشت له لاسه د وطن زخم ناسور دے(۹)

ښاغلي رفیع صاحب چې په خوا د جمهوري او سیاسي انقلاب مرستیال او یو څه همدرده پاتي شوې ؤ. خو هغه وخت کله چې د کمونستیانو عزائم وربانديې کشف شول، نو ئې ؤ نۀ شول کولے چې په هم هغه زاړه دریځ ټینګ پاتې شي. (له دې څخه دا مُراد نۀ دے چې ښاغلي رفیع صاحب کله هم نېغ په نېغه د خلقیانو یا پرچمیانو په پره پاتې شوې. بلکې غرض دا چې د هغۀ د فکر ځینې کړې په ځینو مواردو او مواقعو د انقلابیانو له مفکورو سره سمون خوړلے. خو دا ددې دلیل نۀ شي کېدے چې هغه په کُلي توګه له هغوي سره په دا عمل کښې سل په سله متفق وو). بیا هغه وخت کله چې د انقلاب د خونړې پېښې واقعات او د شورویانو د لاسه د وطن د تباهۍ مناظر ئې تر سترګو شوي نو ئې په جار د خپل ضمیر غبرګون داسې ښودلے:

په وطن کښې د وطن وحشت لړې خورې شوې
کندو وازې کړلې خولې سرې ئې خورې شوې

پسرلي چې به غاټولو سرې کولې
هغه د شپې په سرو وینو باندې سرې شوې

چې دُ زنې وې، چې تاودې وې تا لیدلې
ها دېرې اوس سر تر پایه هدیرې شوې

ځوانان ولاړل د وحشت تر کومې تېر شول
را نه لوټ مو میلې پانګې او یا سرې شوې (۱۰)

ښاغلي رفیع صاحب په یو بل نظم کښې د افغانستان د برخې پر اسمان خپرې تورې تیَرې او د بې نوره دائمي لمر سترګې تور تم ته څۀ دا شان خیال ورکړے چې:

پر وطن چې د وحشت سیلۍ خوره شوه
هرې خوا ته ویرانه شوه، ویرانه شوه

ورځ وي سپينه، شپه وي توره په دنيا کښې
خو زمونږ ورځ هم سره او شپه هم سره شوه

ګرېوانونه تر پورې بېژه* شول
د کفن خبره پاتې شوه، زړه شوه

آزادي به پرې سر لوړې ځي رفيعه!
په سر لوړو ککرو چې لار پخه شوه (۱۱)

نو متو ليکوال او محقق ښاغلي محمد عارف غروال په "پښتو جهادي ادب" کښې د ځينو پښتنو نوميالیو اديبانو او شاعرانو د ادبي پېرزوينو يو څۀ نمونې را نقل کړې دي - چې د هغه وخت د حالاتو، واقعاتو يا د کمونستانو د ظلمونو، د روسانو د تېريو او د مجاهدينو د سر شيندنې په حقله شاهکار نمونې ګنړل کېدلے شي - د عارف غروال د کتاب څخه د يو څو شاعرانو د کلام نمونې لکه: د عبدالرؤف بېنوا، زړۀ سواند شينواري، سعدالدين شپون، عبدالشکور رشار، عبدالباري جهاني ، شهرت ننګيال، ستر مجاهد مولوي يونس خالص، توريال ځاځے، امان الله خان نصرت د شعر بېلګې په خصوصيت سره ياددېلے شي -

د محترم اُستاد خداے بخښلي عبدالرؤف بېنوا صاحب "د بېنوا وصيت" نومي نظم کښې چې د وطنيت د فلسفې رنګ ، د قوميت احساس، د ازادۍ شعُور، د پښتونيت وياړ او د خپل ملي غرور کوم ځانګړے تعبير وړاندې شوے، هغه يقيناً چې د بېنوا صاحب غوندې ستر فکرسره ښائي - يا په دې لړ کښې هغۀ چې د راتلونکي وخت په باب څۀ وئيل غوښتي - هغه د دۀ په دې لاندينيو اشعارو کښې کتلے شئ -

چې د روس له غارتګرو وطن خلاص شي
د ماسکو په لوټمارانو مو بر لاس شي

---

*بيژه :: بژه.

چې د سرو لښکرو شوم قدم تر شا شي
بېرته دا کنډو له کړې وطن ستا شي

دروند وطن د (کې جي بي) په سپکو سپك نهٔ وي
کشتمند نهٔ وي، نورو نهٔ وي، ببرك نهٔ وي

چې مو کله هغه سر ځوړند په دار کړ
چې وطن ئې د کریملن تر ګټو جار کړ

چې مو کله د غدارو مخونه مخان تور کړل
دا ځګ سري مو ذلیل رسوا نسکور کړل

زما هډونه بهٔ در ورېږو خپل وطن ته
مړ بلبل بهٔ رسوئ و خپل ګلشن ته

ښخوئ به ما په پاك افغانستان کښې
د پرتو تنګیالیو په جهان کښې

زما پر شنخته به لیکي زلمیو دا
دلته ښخ دے پر دېس شوے بېنوا (۱۲)

هم دغسې اروا ښاد عبدالشکور رشاد چې د افغانستان د توري ورځې په لیدو، د جهاد د مقدسې مبارزې او د روسانو د لاسه د وطن په بربادیو ئې خپله اندېښنه په "سره وبا" نومې نظم کښې راته ښودلې ده څهٔ داسې ده ـ

چې ګډه په وطن شوه سره وبا کلي په کلي
د خدای مسلمانان ئې کړل تباه کلي په کلي

مارهٔ ئې کړل لیوان د افغانانو په سرو وینو
لوګډ د ژوندانه دے نن سبا کلي په کلي

وطن شو سره تبې په کښې نينې دي د سرونو
ځوانان د پښتنو شول نيمه خوا کلي په کلي

شراوې دي ، ژړاوې دي، چغارې دي کوکارې
سوې ساندې دي د بورو هرې خوا کلي په کلي

په وينو اوبه کړل دښت او غر د افغانانو
پر روس ظالم مو پور ده، خون بها کلي په کلي

اې لويه قادره خدايه! دغه خواست مې ته قبول کړه
روسان کړه په خپل قهر مبتلا کلي په کلي (۱۳)

د ثور له کودتا وروسته څه وخت چې افغاني عنعنات ، روايات او پښتني کلتور سره په بل ډول واوښتل .نو دې هر افغان په حېرت کښې واچولو. د ماحول په دې تغير، د غېر تهذيب په خپلولو، د بې ځايه پرَديو رسوماتو په راتپلو او د افغاني دودونو په ځاے غير دودونو ته ځاے ورکولو باندې يو بل قدرمن او شريف النفس شاعر ښاغلي اصف صميم څه دا ډول خواشيني څرګنده کړې ده.

وطن زما د ے خو دودونه ئې پرادي پرادي دي
کاني مو خپل شول، خو لالونه ئې پرادي پرادي دي

د غم قاصد هره شپه راوړي د بم خبرې
آسمان مو خپل درانه بمونه ئې پرادي پرادي دي (۱۴)
(دغسې دا نظم تر اخره پورې)

ستر مجاهد او د حزبِ اسلامي ګوند د خالص ټولګي په خپله مشر مولوي يونس خالص چې د افغانستان د جهاد يو وتلے کمندان ؤ. د جهاد او مجاهدې پرته يو منلے شاعر هم وو. چې په وروستو وختو کښې دهغهٔ د اشعارو مجموعه تر چاپ هم راوتلې ده .د هغهٔ په اشعارو کښې د سنګرد مبارزو پرته د هغهٔ د قيد و

بندحالات، د جهاد ارزوګانې، د شهادت مقام د موندلو او د روسانو په خلاف خپله ديني او ملي جذبه په خپلو ډېرو شعرونو کښې واضح کړې ده. د هغهٔ د يو نظم "له زندانه" څخه د شعر يو څو نمونې اوګورئ:

مــه خانــده ظالمــه کــړ پهــار د زولنــو تــه مــې
ګــوره نتيجــه کښــې اخېــر کــار د زولنــو تــه مــې

خــداى چــې را تــه وائــي څــهٔ دې راوړهٔ ورتــه وايــم بــه
دا پــه پښــو کښــې اوګــوره پرهــار د زولنــو تــه مــې

مــړ بــه شــې را پــرې بــه وځــې او مــلا بــه دې در ماتــه کــړم
دا قــدرت ورکــړے رب ګــوزار د زولنــو تــه مــې

خېــز کــړه، نبــي خپــل پــر مورچــل بانــدې ور ودانګــه
زر کــړه ملتفــت ظــالم پيکــار د زولنــو تــه مــې (۱۵)

هم دغسې د جهادي مبارزې په حقله خپل احساسات بيانونکے شاعر ښاغلي حبيب الله زړهٔ سواند په ګواښونه نومې نظم کښې د هغهٔ د فکر يو ښکلے عکس کتلے شو. د هغهٔ په دې نظم کښې د وطن په کنډواليو، د بې وخته او بې رختــه مرګ و ژوبلې په اړه ډېر دردونکي کيفيات وړاندې کړل شوي دي.

لســـرهٔ پـــه وينـــو د قاتـــل لاســـونه ګـــورو
چـــې پرېـــې شـــوي لـــه تنـــو ســـرونه ګـــورو

خپـــل کـــالي را تـــه پـــه تـــن کښـــې کفـــن ښـــکاري
بـــې اجلـــه چـــې دا خپـــل مرګونـــه ګـــورو

يـــو اشـــنا و بـــل اشـــنا تـــه څـــهٔ رنګـــه ور شـــي
پـــه هـــر کـــور کښـــې هـــديرې قبرونـــه ګـــورو

اســـــويلي او ځګيــــــروي دواړه تــــــرې را خپـــــــږي
کلـــــه کلـــــه چـــــې دا وران کورونـــــه ګـــــورو

چـــې ســـبا بـــه ئـــي تـــاريخ پـــه نـــوم شـــرمېږي
خدايـــه نـــن خـــو د هغـــوئ ګواشـــونه ګـــوره (۱۲)

د جهاد په دې مقدسه فريضه کښې يو څوک داسې هم وو چې محض د ځان مړولو، د دنياوي ګټې تر لاسه کولو او يواځې ځان په ټولنه او ټولي کښې د مشر يا مشري کولو په خاطر ئې غورزې پرزې کولې. هغوئ يواځې د خپل اولس وينو په تويولو کښې د ځان ګټه لټوله. هم دغسې څۀ چې به د خوار او غريب په کور يا په لاس ورپاتې وو د هغو د را تروړلو به ئې هم ډول ډول تدبيرونه ترل. ځکه په دې جهاد کښې ډېر داسې لاسونه هم ورګډ وو چا چې دغه شان عزائم لرل. هغوي که هر څو ځانونه په ډېرو پردو کښې ځله نغښتي وو مګر هغوي کله هم له هغه چا څخه پټ پاتې نۀ شول چا چې د عملي جهاد تر څنګ د قلم مجاهده هم ترسره کوله. ځکه هغوي په خپلو اثارو کښې د دغه ډول خېرو څخه اولس ته په هم هغه مهال خبرتيا ورکړې ده او د هغوي پټې څېرې ئې په رموز رموز په خپلو اشعارو کښې او يا د نثر په کومه فن پاره کښې رابرخېره کړې دي لکه د غمخوار شريك په اشعارو کښې، چې نمونې ئې د ډاکټر زيرکيار کتاب "زيرکې ويناوې" کښې ورکړل شوې دي. د ښاغلي غمخوار شريك هغه شعرونه چې ئې په کښې ځينې دا نمونې څېرې اولس ته ښودلې دي.

ډېـــــــر يـــــــم غولـــــــولے دې ژونـــــــد يو زيــــــارتونو زۀ
نـــــوره مـــــې توبـــــه شـــــه لـــــه خانقـــــاه او اســـــتانه

چـــا تـــه عـــرض وکـــړم او چـــا تـــه ګريـــوان څيـــرې کـــړم
يـــو مـــې غوښـــې غـــواړي بـــل هـــډوکي شـــکرانه

(یو څو شعرونه ئې دا ځنې:)

لکونه په کښې ورك شول خو څو تنه شول اباد
جهاد دې زنده باد وي
رهبر دې وي خوشحاله نور عالم که وي ناښاد
جهاد دې زنده باد وي (۱۷)

د اولس هغه ارزو چې: د بریالیتوب را تلونکې رڼو سباؤن او د وطن زخمونو ته د ټکور ورکولو درمل به اخېر خدا ے له یوۀ لوري را پیدا کړي، د هر وطنپال له خولې اورېدل کېده. خو ښاغلي غمخوار شریك چې په خپلو یو شعر کښې دا څۀ ډول راوړې ده هغه څۀ داسې ده.

دا تیارې به خدای په مونږ باندې رڼا کړي
د اسلام د سپینو تورو له ګزاره

نۀ به خلق نۀ به پرچم وي نۀ به روس وي
ازادي به قدمونه زمونږ ښکل کړي

په هر ځا ے په هر وطن په هر دیاره
دا خوړې ورې مرغۍ به شي را ټولې
دا سوخته چمن به ټول شي لاله زار (۱۸)

د جهادي ادب یوه بله ښکلې نمونه د ښاغلي اسحاق ننګیال "څاڅکي څاڅکي" نومې شعري مجموعه کښې لیده شي. کومه چې د ننګیال څلورمه شعري ټولګه ده. په دې کښې یو څۀ غزلې، نظمونه او څۀ ازاد شعرونه هم شامل دي. د دۀ نورې شعري مجموعې "ډالۍ"، "سپېرۀ ډاګونه"، "غورېدلي بزغلې" او "هغه شیبې هغه کالونه" چاپ شوې دي. خو دلته په دې واړو څېړنه یا له هرې یوې مجموعې څخه نمونې راوړل به نۀ یوائې د مقالې له اصل موضوع سره تېروالے وي بلکې دا به

د مقالې د طوالت جواز هم پیدا کړي ـ البته له دې څخه د اشعارو داسې نمونې را سپړدل چې د موضوع په مناسبت سمون لري به ضرور راخیستلې شي ـ چونکې د ننګیال په شعر کښې د وطن مینه، د انسان مینه، پښتو وپښتونولي، د مظلوم د درد احساس ، د خواري کښ سره همدردي ، د اولس د کړېدلي، ځورېدلي او د ارماني ژوند له سوزه ډکې نغمې ډېرې عام دي ـ خود دغه شاعر د زړهٔ درد هغه وخت لا په څو چنده زیات شوے کله چې د روسانو پالیت قدمونه د هغهٔ د وطن په خاوره پرېوتل، د دهٔ د وطن هره لوټه او هر بوټے ئې د بارودو په بوئین ولړلو ـ پس له دې بیا د غیر غماز په لسمون د افغانانو خپل تر منځه یو بل ته د لاندې وتولو له کبله کومه تباهي او بربادي چې را منځته شوه ـ په داسې حالاتو کښې یوه خوا ته که د کرېملن سرې لښکرې په دا ارزو را داخلېدلې چې دلته به د اشتراکي نظام په لباده کښې یو نوے ژوند او د اولس روښانه سباؤن به جوړ کړي ـ بل خوا د وطن پالنې او د دین د تقدس او سر لوړتیا ستره جهادي نعره وه چې ملت ئې له شرق او غربَ په یو اواز راپورته کړو ـ مګر په دې کښې یو دریم قوت هم چې هغه د ډالرو ، کلدارو ، د درهم او دینارو وهٔ او د یو بل تر منځه د رقابت او سیالیو زور ئې په هم دې خاوره شروع کړے وهٔ ـ خو په حقیقت کښې له دې څخه دغه دویمه طبقه هغه طبقه وه چې په صحیح معنو سره ئې جهاد خپله دیني او ملي وظیفه ګرځولې وه او د وطن د ننګ و ناموس په سر غېرت ئې ملي شعار منلے ؤ ـ د شورویانو ظلم او تیرے وو ، د مجاهدینو خپل تر مینځه پهلواني وه او که د ډالرو او که د اسلحو یا د سیاسي واک تر لاسه کولو په سیالۍ کښې کوم زیان چې کېدهٔ هغه په اصل کښې د ملت یا د دې ملت د بچیانو وهٔ ـ اسحاق ننګیال په دې اړه په خپل یو نظم کښې دا کیفیات څهٔ داسې واضح کړي دي ـ

دا کلـــــے مـــــه ورانـــــوئ دا کلـــــے مـــــه ورانـــــوئ
ګـــورئ چـــې هلتـــه د شـــنو ولـــو د شـــنو ســـيورو لاتـــدې

ګـــورئ د شـــنې ويـــالې تـــر څنګـــه د جلګـــو دپاســـه
يـــو کـــوچنے پـــروت دے، يـــو کـــوچنے ويـــدۀ دے

او د وړې لـــــوپټې لاتـــــدې پـــــه خـــوب وړو ســـــترګو
د نـــاز پـــه غېـــږ کښـــې کـــوچنے شـــينکي خوبونـــه وينـــي
دا کلـــــے مـــــه ورانـــــوئ دا کلـــــے مـــــه ورانـــــوئ(۱۹)

د پښتو جهادي ادب په تسلسل کښې يو نوے او د منفرد طرز رغونکے، د ځوان کهول تکړه، غښتلے، ازاد خيالَ، وطن دوست او په قندهاريت مئين شاعر ښاغلے عبدالباري جهاني دے ـ چې په پرله پسې توګه يو څو شعري مجموعې ئې چاپ او د پښتو په نوې شاعرۍ کښې ځان ته د يو نوي طرز څښتن دے ـ په فکري لحاظ جهاني صاحب د يو ځانګري اسلوب شاعر، يو نقطه شناس او انسان دوست شاعر دے خو په کومه حواله چې دلته د هغۀ له شعر څخه کوم څۀ راخستل کېږي هغه د دۀ په شاعرۍ کښې د شوروي يرغل ، د وطن د ازادۍ او د مجاهدې په اړه د دۀ د افکارو نمائنده اشعارو نمونې دي ـ د دې دورې د مزاحمتي ادب او يا د جهادي دورې د ادب په برخه کښې جهاني ځان لره د يو مُنفرد ، بااستعداده او وتلي شاعر په توګه ستر مقام ګټلے ـ د دۀ د شاعرۍ ځينې مجموعې لکه "د سباوون په طمع" او "شپېلۍ" هم د دۀ د اول وختو د شاعرانه طرزِ انداز ښکلې نمونې دي چې د هغه مهال ډېر په زړۀ پورې احساسات په کښې ترسيم شوي ـ خو وروستۍ مجموعه لکه "ورکه مېنه" کښې که يوه خوا ته د هاغه وخت د حالاتو په اړه د مزاحمتي ادب غوره

نمونې بلل کېدلے شي ، نو ورسره ورسره ئې د خپل اولس د ډېرو سختو ستونځو او د هغوي د مهاجرت د مهال تر زغم وتلي تراخهٔ حقیقتونه هم د شعر په جامه کښې بیان کړي دي ـ

د پښتو ژبې دا خوږ ژبے او با احساسَ شاعر کله چې د ۱۹۸۲ء په خوا و شا کښې دې ته مجبور شوے چې له خپل ټاټوبي څخه کډه په سر کړي ـ نو ئې په خپل شعر کښې د زړهٔ تاؤدې څپې لا په شدت سره لیدل شوي دي ـ بیا کله چې هغهٔ د خپل خوږمن زړهٔ دغه کړېدلي احساسات د ټول ملت له احساساتو سره یو شان کړي دي ، بیا اولیدل شوه چې جهاني یوائې افغانیت او قندهاریت ته مختص پاتې نهٔ شو بلکې د خپل جهاني نظر په اساس هغه په رښتیا جهاني شولو ـ خو د جهاني هغه فکر و نظر چې هغهٔ د خپلو اشعارو په وړانګو کښې د خپل ملت د مجاهدې او مبارزې د ویاړنو بیانولو کښې راوړے ، په خصوصیت سره نهٔ یوائې جهاني ته بلکه د دې دورې د مزاحمتي ادب یو ستر مثال جوړوي ـ ځکه مونږ وئیلے شو چې د ښاغلي عبدالباري جهاني د شعر و ادب هنر هم له دې سوبه ځلیدلے او د دهٔ دغه قلمي مبارزه د ټوپک تر مبارزې ګړندۍ ثابته شوې ده ـ کله چې هغهٔ ته د دې احساس شوے چې د هغهٔ دغه مبارزه ډېر اثرناکه او په شدت سره په اولس کښې ځاے لري ، نو ځکه دهٔ هم دغه خوا ته فوقیت ورکړے او بیا ئې په پرله پسې توګه د وطن او ملت په درد و غم کښې ډېر اثرناك اشعار وئیلي ـ لکه: په "اعتراف" نومي نظم کښې:

ما لیدهٔ چې ماتې ککرۍ شولې
ما لیدهٔ چې ورك ئې لحدونه شول

ما لیدهٔ چې توئ شوې بې ګنا وینې
رنګ د چا بریتونه او لاسونه شول

واخیستې جونګړې د توپان څپو
رنګ د خلکو کلي او کورونه شول

سرې لمبې د توپ له سینې والوتې
اور د چا د هیلو جنتونه شول (۲۰)

ښاغلے جهاني یو ډیر تېز فهم او ځیرك شاعر دے. هغه د وخت او حالاتو ډیر ژور ادراك لري. مطالعه ئې لوړه او فکر ئې پراخ دے. د حالاتو د تغیر په فلسفه پوهه، د امکاناتو او تغیراتو ادراك ورته په ښهٔ شان سره معلوم دے. هغه سلیقه لري او په دې هنر پوهېږي چې د تیَرو، اند ېښنو په برعکس د سباؤن پېغام او اټکل به څهٔ ډول ځله جله کړل شي. د وطن په دې وران وېجاړ حالاتو، کنډوالیو، بدمرغیو او د دې وروستي لوبې د انجام په نقطه ئې هم ښهٔ سر خلاص دے. ځکه خو وطنوالو ته "خوب وینم عالمه" نظم کښې دا خوش بیني ورکوي چې:

ما ئې تعبیر کړے دے دا خوب مې رښتیا کېږي
نور د اولسونو د ښامار ستونے څیرېږي

زمونږ ورکے مېنه، زمونږ جونګړه ازادېږي
ګرځو ئې په غرونو کښې سرشار او مستانه

خوب وینم عالمه که ئې څوك راکړي معنا (۲۱)

هم داسې یو بل ځاے د وطن دې بدمرغه حالاتو په باب په خپلو اشعارو کښې داسې ګویانه شوے چې.

ستا له یتیمه صدقه، ستا له شهیده قربان
لا چې نه ختمېږي، ستا د غمونو داستان

لکه چې نهٔ سړېږي، دربانديزړهٔ د اسمان
چې دربښکارلي ئې دي، د مردکیو باران

کوم غم دې وژاړمه، کوم تپ دې وګنډمه
د کوم شهید جنازه در سره ونیسمه (۲۲)

په دا خاطر وئیل کېدلے شي چې جهاني د نوي کهول د نوي سباؤن غوښتونکے شاعر دے، چې شاعرانه افکار ئې د وطن د مینې په مستو ترانو پُر دي ،شاعرانه افکار او داخلي احساسات ئې د ملت له درد و غم څخه څهٔ نور نهٔ دي .په دې اړه د هغهٔ "ویاړ" نومې نظم چې د وطن د شهیدانو ارمانونه او د جنګ د بربادیو ډېر زړهٔ راکښونکي منظرونه راته وړاندې کوي ، د توجه وړ دے.

څومره شیرینې دي د جنګ د میدانو کیسې
څومره اسان دي د شاباش او افرین غږونه

خو چا پوښتنه له شهیده د زخمونو کړې؟
چا له اتل سره خواله د پرهارونو کړې؟

چا ئې د مرګ پر پوله سترګو ته یو ځل کتلي؟
چا ئې په سترګو کښې کیسه د ارمانو لیدلي؟

چا د شهید د بورې مور سوے ګوګل کتلے؟
چا د ښائستې سر تورې کونډې وران اوربل لیدلے؟

چــا پــه ســینه کښــې د مرګــي د ګــولۍ زور لیــدلے؟
چــا د زړګونــو ارمــانو ســوځلے کــور کــتلے؟ (۲۳)

د جهادي ادب بل نومتو شاعر فضل مولاتره کے هم د یادونې وړ دے، چې په "حماسې او ترانې" نومي شعري مجموعه کښې ئې د پښتنو د جهاد، حریت، خپلواکۍ او ملي غرور ساتلو جذباتو ته په شاعرانه ژبه لوړ مقام بخښلے. د دهٔ د شعر موضوعات زیاتره هم هغه د شورویانو څخه کرکه، د کېمونستانو د ناوړه عملیاتو غندنه او د افغان اولس د دردېدلي و ځورېدلي حالاتو اینځورګري ده. یوڅو نظمونه ئې لکه: "روسانو ته"، "د کېمونستې ګور"، "دروس غلام ته"، "د شهید پیغام"، "خلقه او پرچمه"، "زېب که"، "ډالۍ"، "د عبرت درس" او ځینې نور یادېدلے شي.

د جهادي ادب یا ضدِ انقلاب مزاحمتي ادب له شعري مجموعو څخه د ملا محمد الحنیفي "د مجاهد چیغه" مجموعه هم ده. چې یو وړوکي غوندې کتابګوټے دے. اشعار ئې له شروع نه تر اخره هم دغه د جهاد و شهادت، د روس نه کرکه د وطن د ازدي او د دین اسلام د سربلندۍ په مصاله اغږل شوي دي. ځینې نظمونه لکه: "مبارز ته خطاب"، "د شهید یاد"، "وطن ته خطاب"، "بې ایمانه بزګر ته خطاب"، "اې غلیمه!"، "بابرکه تا لټوي" او ځینې نور.

د ښاغلي ملا محمد الحنیفي یو نظم "جګړه" څخه یو څو اشعارو د نمونې په توګه اوګورئ.

نــن جګــړه د حــق باطــل ده پــه افغــان کښــې
د اســلام لښــکر روان دے پــه جهــان کښــې

شــرق او غــرب دوه ښــاماران خــو ســره یــو دي
غــافلان بــه واړه ځــان لــره حېــران شــي

فهم کړه چې شرق و غرب ته تسلیم نهٔ شي
دغه دواړه جهان خور دي هر زمان کښې

زما حنیفي محمد نصیحت واورئ
د پردو مرئیتوب تل دے په نقصان کښې (۲۴)

**نتیجه**:

د دې ټول بحث په اساس وئیلے شو چې په بره خوا کښې د شوروي د یرغل را په دې خوا نهٔ صرف د هغه ځاے اولس په دوو لویو ډلو کښې ځله اووېشل شو بلکې په دغه څېر لیکوالان ئې هم دوه مکتبه فکر ته محسوس شول ـ یو هغه وو چې د نوي نظام په دفاع کښې له دولت سره ولاړ وو او دویم هغه چې د دې په اړوند د ملت له اکثریت سره په څنګ کښې اودرېدل ـ له دې سوبه مونږ ګورو چې په هغه خوا کښې د نوي نظام په خلاف د مقاومت یا مزاحمتي ادب یوه لویه ذخیره په وجود کښې راغله ـ څهٔ ته چې په بله حواله جهادي ادب هم وئیل کېدلے شي ـ که د نوي نظام په ملاتړ کښې یو رنګه ادب تخلیق کول کېدهٔ نو د دې په رد کښې بیا هغه ادب تخلیق شوے چې د اولس د احساساتو او جذباتو ترجمانه ادب په نوم یاد شوے ـ دغسې له دې شخړې په اساس که یوه خوا په لاکهاؤ انسانان شهیدان شوي، بې کوره شوي ، ځورېدلي او له یو شمېر زښتو مالي ستونځو سره مخ شوي ـ خو د دې دومره لوي تاوان په بدل کښې د خپلواکۍ او ازادۍ سرلوړے مقام ګټلو پرته کومه دویمه لاس ته راوړنه چې پښتنو کړې ده هغه د پښتو ژبې اوادب په نړیواله سیالۍ کښې ځان لره یو ستر مقام ګټل هم یادېدلے شي ـ په دې دوره کښې ډېر ښهٔ شاعران او ادیبان رامخته شوي ، د پښتو ژبې او ادب پنګه ئې د نظم او نثر په لحاظ د نور کله په نسبت په څو چنده زیاته کړې ده ـ البته یو څهٔ نیمګړتیا

چې لیدې شي هغه دا چې په دې دوره کښې یواځې د پښتو د شعر برخه پرېمانه شوې ده ولې د نثر په برخه کښې ئې پرته له پښتو لنډې قیصې بل کوم صنف په خصوصیت سره نۀ دے زیات شوے ـ خو دا وئیل کېدلے شي چې دې لوې پېښې په را وروستو وختو کښې د پښتو ادب بیلا بیلو اصنافو ته ډېرې لارې پرانستې دي ـ د کومو ثمرات چې اوس عام لیدل شي ـ

## ماخذونه


۱: محمد عارف غروال ، پښتو جهادي ادب ، سريزه محمد اصف صميم ،احسان خپرندويه ټولنه ، پېښور، م ، دويم
۲: دغه بره ، م م ـ ۴۵ ـ ۴۴
۳: حبيب الله رفيع ، ملي زاويه ، د پښتني فرهنگ دودې او پراختيا ټولنه ، جرمني ، ۲۰۰۰، م م ـ ۱۳۷ ، ۱۳۹
۴: ډاکټر عبدالعلي ارغنداوي ، ژوندۍ خاطرې ، بي بي سي پښتو څانگه، ۱۹۹۷ ، م ـ ۳۲۲
۵: سعدالدين شپون ، ؤ نۀ ؤ يو شپون ؤ ، دانش خپرندويه ټولنه ، پېښور ، ۲۰۰۵ ، م ـ ۱۹۲
۶: عبدالباري غيرت ، اثار چاپي در مفصله افغانستان، مشموله : سنټرل ايشيا ، شپږ مياشتينۍ جرنال، ايريا سټډي سنټر ، پېښور يونيورسټي ، ۱۹۹۲، خزان، م ـ ۲۸
۷: ډاکټر شېرزمان طائزے ، جرس کراچي ، گڼه ۳۷ تا ۴۰ ، کال نهم تا يوولسم ، ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۲، ، م ـ ۱۹۰
۸: ولي محمد ولي ، د سبا غازي ، خپرندوي په خپله ليکوال ، ۱۹۹۰ ، م ـ ۶
۹: حبيب الله رفيع ، د ستوريو کرونده ، د امان کتاب خرولو موسسه ، ۲۰۰۰، م ـ ۱۲۸
۱۰: دغه بره ، ولونه ولونه ، د امان کتاب خپرولو موسسه ، ۲۰۰۰، م ـ ۱۴۸
۱۱: دغه بره ،م ـ ۱۸۴
۱۲: غروال ، د پښتو جهادي ادب ، احسان خپرندوي ټولنه ، پېښور ، ۱۳۸۱ ، م ـ ۸
۱۳: دغه بره ، م م ـ ۸۴ ـ ۸۳
۱۴: دغه بره ، م ـ ۹۹
۱۵: دغه بره ، م ـ ۱۰۶
۱۶: دغه بره ، م ـ ۶۰
۱۷: ډاکټر رحمت ربي زيرکيار ، زيرکې وېناوې ،پښتو يون ، نيويارک ، امريکه ، ۲۰۰۲، م ـ ۳۵۲
۱۸: دغه بره ، م ـ ۲۵۶

۱۹: شهرت ننګيال ، څاڅکي څاڅکي ، د افغانستان د ليکوالو انجمن ، **۱۳۷۸** ل کال ، م ـ **۲۲**

۲۰: عبدالباري جهاني ، ورکه مېنه ، صحاف نشراتي موسسه ، کوئټه ، طبع پينځم، **۱۳۸۵** ل کال ، م ـ **۳۵**

۲۱: دغه بره ، م ـ **۱۲۳**

۲۲: دغه بره ، م ـ **۱۸۲**

۲۳: جهاني ، د سباؤن په طمع ،صحاف نشراتي موسسه ، کوئټه ، طبع څلرم ، **۱۳۸۴** ل کال، م ـ **۷۸**

۲۴: ملا محمد الحنفي ، د مجاهد چغه ، سنه او د خپرندويه نخښه نه لري ، م ـ **۵۴**